PROPERTY OF ACKU

فرمان الله جل جلاله
بخوان و پروردگار تو بزرگوار تر است آنکه علم آموخت به وسیله قلم.
(العلق - آیات ۳-۴)

# اراده

ارشاد نبوی (ص)
آموختن علم بر هر مرد و زن مسلمان فرض است.
(رواه مسلم)

سال اول شماره هفدهم | دوشنبه ۲۵ سرطان ۱۳۸۰ هـ.ش | ۲۵ ربیع الثانی ۱۴۲۲ هـ.ق | ۱۶ جولائی ۲۰۰۱

## مؤسسو او ښوونځیو ته د فعالیتونو د بندولو حکم

۱۰ جولای: د صوبه سرحد حکومت ناصر باغ مهاجر کمپ کی فعالیت کوونکو مؤسسو او ښوونځیو ته دیرشم جولایی پوری د فعالیتونو د بندولو حکم کړی دی. په دی جمله کی د خارجی موسسو په مرسته فعال اته ویشت ښوونځی او خلور پنځوس کورنی ښوونځی شامل دی چی ورته د ذکر شوی نیتی پوری دو دانیو د خالی کولو وینا شوی ده. خبر زیاتوی: ددی ودانیو د خالی کیدو وروسته به هغه په فوری توگه نړولی شي.

عکس: د علم دحاصلو تنده چیرته به مات کرو

## یك انفجار قوی کابل را لرزانید

۱۲ جولای: انفجار قوی یی در قسمت جنوب غرب شهر کابل ساعت دوازده و چهل وپنج دقیقه شب چار شنبه کابل را لرزانید. انفجار در ساحه جنوب غربی قصر دار الامان در نزدیکی های تپه تاج بیك در یك ذخیره گاه سلاح و مهمات بوقوع پیوسته است.

بقیه صفحه ۷

## استفاده از انترنیت منع قرار داده شد

۱۱ جولای: طالبان انترنیت و استفاده از آن را بصورت مکمل منع قرار دادند.
در فرمانی که از سوی ملا محمد عمر رهبر طالبان از کندهار صادر شده است آمده: هیچ اداره امارتی، موسسات خارجی و افراد نمی توانند از انترنیت استفاده و یا آنرا استعمال نمایند خبر می افزاید قبلاً وزارت امور داخله، ریاست اداره امور و وزارت اطلاعات و کلتور طالبان علاوه برعده یی از موسسات خارجی در کابل از انترنیت استفاده می نمودند.

## په افغان مهاجرینو د ایرانیانو حمله

۹ جولای: سل تنه ایرانی ځوانان چی په موتر سائیکلو سواره وود ایران د اصفهان ښار ته نیږدی د داور خان په سیمه کی د افغان مهاجرینو په استوگنځیو حمله وکړه، دغو ایرانی ځوانانو د افغانی مهاجرینو په ضد شعارونه ورکول، د ارنا خبری شبکی مطابق د دغو ایرانی ځوانانو د حملی په نتیجه کی ۳ افغانان مړ او یو شمیر نور افغان مهاجرین زخمیان شول، ارنا خبری شبکی دعوی کوی چی ایران کی عام خلق د افغانانو ځینی تنگ شوی دی.

## د جگړو له امله په تخار کی ۳۰۰ کورنی بی ځایه شوی دی

۹ جولای: د ورستیو جگړو له امله دری سوه نوی کورنی دی ته اړ شویدی چی خپل کلی کور پریږدی او د تخار خواجه بهاوالدین اولسوالی ته پناه یوسی.
په اسلام آباد کی د ملگرو ملتو ماموره ستیفنی بنکروایی چی دغه کورنی له دشت ارچی، خواجه غار، دشت قلعه او د بدخشان له شهر بزرگ او نورو ولسوالیو نه دغلته تللی دی.

## سیستم آبرسانی مکتب پنحصد فامیلی فعال ساخته شد

مشکل سه هزار شاگرد مکتب پنحصد فامیلی خیرخانه مینه از ناحیه کمبود آب آشامیدنی از اثر کار وتلاش موسسه خیریه اطفال جنگزده مرفوع ساخته شد.
محترم عبدالروف "عزیزی" مسوول بخش کابل این موسسه به خبرنگار اراده گفت: سیستم آبرسانی مکتب پنحصد فامیلی که شش سال قبل از اثر جنگ های داخلی بکلی از بین رفته بود. مشکلات جدی ایرا برای شاگردان و اهالی ساکن در اطراف مکتب بوجود آورده بود که ماتوانستیم با وقف کمك های بشر دوستانه افغانهای مقیم امریکا و شهر تورنتوی کانادا بر این مشکلات فیق آمده و سیستم آبرسانی را احیا نمایم.
شبکه متذکره روز سوم مه جولای رسماً افتتاح و به فعالیت آغاز کرد که از اثر آن مشکل عدم موجودیت آب آشامیدنی صحی در منطقه متذکره مرفوع گردیده است.

- نمایی از مخزن آب مکتب پنحصد فامیلی

## امارتی مامورین دی توری لنگی په سروی او تور قلم دی کاروی

۱۱ جولای: ملا محمد عمر بخپل یوه نوی فرمان کی د اسلامی امارت ټولو مامورین او چاروا کی پردی مکلفه کړی دی چی توره لنگی دی پرسروی او تور قلمونه دی کاروی.

## دکانهای خواجه بغرا تخریب شد

۱۰ جولای: گزارش های رسیده از کابل حاکی از آنست که شاروال کابل در منطقه خواجه بغرای آن شهر تمام دکانها و مغازه ها را تخریب کرده است. طالبان در رابطه با علت این اقدام شاروال کابل تاکنون اظهار نظری نکرده اند اما این اقدام می تواند به جمع بیکاران در کابل بیفراید و رقم رو به از دیار گداها در شهر را درشت تر بسازد.

## از صفحات این شماره:


- چرا ظاهرشاه سست می جقد؟ عبدالحق واله صفحه ۴
- جنگ سرد و ارتباط آن با... خانه بدوش صفحه ۲
- بشری حقونه، محمد آصف اکرام صفحه ۳
- معیار شناخت ملی وغیر ملی در... کوه بابا صفحه ۸


## پسر حاجي زمان غمشریك بقتل رسید

۱۲ جولای: فرزند حاجی زمان غمشریك یکتن از قوماندانان مشهور جهاد و قوماندان اسبق فرقه یازده ننگرهار در نزدیکی های شهر جلال آباد همراه با محافظش میر زمان یکجا به قتل رسیده است.
اجساد فرید ۲۳ ساله پسر حاجی زمان و محافظش از موتر شان درمنطقه انگور باغ در نزدیکی نهر آب بدست آمده است،

بقیه صفحه ۷

## اعلامیه فدراسیون سازمانهای پناهندگان افغان در اروپا

### اهل هنود میهن، جزء جدایی ناپذیر ملت افغان اند

کشور محبوب ما افغانستان چه غریبانه و دردانگیز در میان آتش متقاطع تجاوز و استبداد میسوزد. کشتی بی لنگر و بی بادبان مردم هر ساعتی در غرقاب سیاهی های ژرف در حال فرونشستن است.
و اما طالبان این ........ پاکستانی سوار بر... آنسوی تاریخ هر روزه گل تازه یی را به آب جهل می سپارند کارنامه عاملین نقض حقوق بشر در افغانستان، در وجود شبه نظامیان طالبان به شیوه تکاندهنده یی تکمیل و ترسیم میگردد.
کشتار جمعی انسانها، رفتار غیر انسانی با ملیت های دیگر افغان. کوچانیدن اجباری مردمان سرفراز شمالی و برخی نقاط دیگر، روند تازیانه کوبی و نابودسازی هویت اجتماعی زن،

بقیه ص ۷

## د کابل پوهنتون محصلان ته د ویښتانو د خریلو هدایت

۸ جولای: طالب چارواکو د کابل پوهنتون ټولو محصلانو ته اخطار ورکړی دی چی د سرویښتان وخریی که نه نو په ټولگیو کی د کښیناستو او امتحان ورکولو نه به محروم کړی شی، د کابل ښخه په ورکړی شوو راپورونو کی ونیل شوی دی چی د طالبانو په دغسی اقداماتو د هیواد زیادتره اوسیدونکی ناراضه کړی دی خو له هغه ځای نه چی په افغانستان د بیان د آزاد یو هیڅ دول اجازه او څرگندولو حق وجود نلری نو څکه خلق خپل آواز پورته کولی نشي.

پام کوی چې په بل چا می د قاتل گومان ونکړی ددی کوز کلی اشنا می زهر شاتو کې راکړی
زره سواند

PROPERTY ACKU




# اراده

د تاسیس کال : ۱۳۷۹ هـ.ش

پنځلس ورځنی خپلواکه تحلیلی خپرونه

د امتیاز خاوند: افغان نشراتی مرکز

مؤسس : سید داؤد

مسوول مدیر: عتیق الله پژواك

د کتونکې ډلی په مرسته

پست بکس ۹۰۹ یونیورستی ټاون، پېښور

تیلفون : ۴۱۶۹۱، فکس : ۸۴۱۷۸۵

E-mail: amrc@brain.net.pk


بنام خداوند متعال　　سرمقاله

## د افغانستان اقتصادی انحصار، خطرناکه لوبه او خطرناکی نتیجی

د یوه پلوه زموږ جګړې ځپلی افغانستان د جغرافیوی موقعیت له مخې په وچه پوری نښتی هیواد دی له بله پلوه د تاریخ په اوږدو کی د ګاونډیانو او پردیو یرغلګرو تر تاړاکونو لاندی راغلی او د بیلا بیلو شومو اهدافو ښکار شویدی. دغه یرغلونو، چور او چپاولونو زیاتره اقتصادی اغراض درلودل او له همدغه امله د افغانستان مادی او معنوی شتمنی لوټ او تالان شوی هم دی.

تاریخی بهیرونو ښودلی چی زموږ ګاونډیانو او نورو یرغلګرو د خپلو تاړاکونو په پای یا جریان کی د افغانی سیاست د تابع کولو له پاره په اقتصادی انحصار او کلابندی لاس پوری کړی. دغو تجربو ښودلی چی دی کار غوره نتیجی نه دی ورکړی په پای کی تیری کوونکو او د شومو غرضونو خاوندانو د غوږ ګټلو پرځای خپل سرونه له لاسه ورکړی او یا تش لاس، مات او ګوډ زموږ له هیوادنه تښتیدلی خو د همدغو ناخوالو له کبله زموږ مؤ منه او پتمنه ټولنه د ورځنی ژوند له ناخوالو سره مخامخ شویده.

د مثال په توګه روسانو څه د پاسه نیمه پیړی د افغانستان د سیاست د تابع کولو له پاره تش په نامه اقتصادی مرستو په نوم د اقتصادی انحصار له امله دی هیواد کی هلی ځلی وکړی او کله یی چی په لرغونی افغانستان پوځی یرغل وکړ تر هغه وروسته یی زموږ ټول اقتصادی فعالیتونه په مستقیم ډول تر خپل انحصار لاندی راوستل خو دغه اقتصادی انحصار، د روسانو غلط سیاسی او پوځی سلوك هغوی داسی بدنام کړی چی نه یوازی پخپله له اقتصادی پلوه په ملامات شول بلکه په سیاسی، پوځی او جغرافیوی ډګر کی هم هسی دړې وړې شول چی اوس د ځان په چاره هم نه پوهیږی او موږ یی دی حالت ته راوستو چی اوس موخوك د مهاجر په توګه هم نه منی.

د سیاسی ژوند تجربی هم جوتوی چی غلطی تجربی باید تکرار نشی روسانو په افغانستان کی هره اقتصادی منبع، تولیدی، ساختمانی کانی پروژی په ځان پوری تړلی نوری بهرنی نړی ته یی ددی وخت نه ورکاوه چی د افغانستان د اقتصاد دودی په هکله دی خبره هم وکړای شی. د همدغو تجربو په دوام دادی اوس د افغانستان یو شمیر ګاونډیانو د افغانانو د ښه ښکیلولو له امله د تیرو تجربو په عملی کولو لاس پوری کړیدی او په افغانستان کی اوسنیو واکمنو هم هماغه زړه پالیسی غوره کړی د افغانستان هره اقتصادی انکشافی مسئله او پروژه یوازی له یوه ځانګړی ګاونډی هیواد سره قرار داد کوی.

د افغانستان او د هغوی متقابل قرار داد کوونکی واکمن باید په دی وپوهیږی چی دا کار له افغانانو سره دښمنی ده افغانی واکمن دی د خپلو انکشافی پروژو د پراختیا او پرمختیا له پاره له نړیوالو منابعو څخه ګټه واخلی، هغوی دی هم د کار او فعالیت له پاره راو بولی. له بله پلوه زموږ ګاونډیان چی د افغانستان د اقتصادی انحصار فکر لری تر اوسه په علمی، ساینسی او تخنیکی ډګرونو کی دومره نه دی توانیدلی چی په نړیواله سطحه دی زموږ اړتیاوی پوره کړی تر اوسه بهرنی متخصصین هغوی ته کار کوی. که څه هم موږ پوهیږو چی زموږ ګاونډیان د خپل اقتصادی فشار له امله زموږ په هیواد کی د خپلو مروجه پیسو په وسیله پیرورل او پلورل کوی چی دا کار تراوسه پر موږ باندی نورو یرغلګرو نه ؤ کړی او د هیواد واکمن هم ددی کار مخه نه نیسی.

ټول افغانان په هیواد کی واکمنو او له هیواد نه بهر اقتصادی انحصار کوونکو ته په ګوته کوی چی دغه روان بهیر د افغانستان په ګټه نه دی، دا یوازی د افغانستان د اقتصادی ودی د لوټ او تالان په معنی بولی، هیڅ یو افغان به په راتلونکی کی ددی قرار دادونو او معاهدو په وړاندی تادیاتی التزام ونلری او همدانا سنجول شوی کارونه به د راتلونکی له پاره زموږ اړیکی خړی پړی کړی او دا به داسی نتیجی ورکړی چی عواقب به ئی د عاملینو له پاره بیا ډیر درانه تمام شی چی په پایله کی به یی سیمه هم له ناخوالو څخه ونه ژغورل شی او مسوولیت به ددوی په غاړی وی او بس.

تبصره این شماره　　مبصر　خانه بدوش

## جنگ سرد و ارتباط آن با:
## ایجاد مصنوعی جنگ گرم، فریب حکام محلی، تولید و صدور اسلحه، تشکل باندهای قاچاق و مافیا، تحویل و تحمیل آیدیا لوژی های بیگانه و نا آشنا، واستثمار مادی ومعنوی

جنگ پدیده ایست تاریخی، انواع مختلف دارد و علل متفاوت. افراد آن بسیار و اثرات بد آن بی شمار است. در اواخر نیمهء قرن بیستم بعد از ختم جنگ عمومی دوم، اصطلاح جدیدی در مورد آن بوجود آمد یعنی "جنگ سرد". بنا به قراین زیادی این گرمی و سردی جنگ، ما را به یاد گرمی قصرهای ثروتمندان و حاکمان در گیر در جنگ می اندازد و در اندیشهء غژدی های پاره و خیمه های پلاستیکی سرد تعدادی ا ز هموطنان مهاجر و بیجا شده، که در دیار خود و بیگانه در حسرت و گرسنگی، آواره و سرگردان هستند و بقول حضرت سعدی:

کسان شهد نوشند و مرغ و بره
مرا روی نان مي نبينند تره

جنگ و ابعاد گستردهء آن مفکرین سیاسی زیادی را بخود مشغول داشته و شرح وبسط آن وظیفهء ادبیات اکادمیك به شمار می رود و مارا در این مختصر با آن سروکاری نیست و این قدر باید گفت که همین جنگ است که مایهء شر بوده و اجتماعات بشری را چون مجتمع نسبتاً سالم و واحد ما بصورت افقی و عمودی، عمیقاً تقسیم می کند که در ذات خود بلا و مصیبت دیگری محسوب می شود.

و اما جنگ سرد؟

جنگ سرد بعد از جنگ عمومی دوم، بین کشور های فاتح یعنی قدرت های بزرگ غربی و بلاك کمونستی بوجود آمد، علت تکوینی آنرا می توان عیناً مانند جنگ گرم همانا کوشش در راه استحصال قدرت و اعتبار سیاسی و اقتصادی خواند. به عبارت دیگر در خلال مجادلات و مناقشات ضمنی بین کمپ کامونستی و سرمایه داری بوجود آمد که عدم اعتماد و بی اعتباری های ذات البینی به آن دامن می زد.

این کار درست هنگامی به تحریك آغاز کرد که اتحاد جماهیر شوروی سوسیالستی آن زمان در اثر سیاست عنعنوی، توسعه جوئی در سایهء قوای سرخ، جای پائی در اروپای شرقی بدست آورد و مناطقی را در المان و استریا اشغال و ترکیه و یونان را مورد تهدید قرار داد.

درین هنگام بود که ونستن چرچل بار اول در بارهء فعالیت های ( به اصطلاح خودش) پشت پردهء آهنین مشکوك و مشوش شد و امریکا در صدد تلافی و چاره بز آمد.

تا آنکه در ۱۹۴۹ اتحادیهء اتلانتیك شمال را پیریزی کرد و روس ها مقابلتاً در ۱۹۵۵ اتحادیهء وارسا را اساس گذاشتند و بعداً در اثر ص ۶

# افغانان د مرګك او ژوند په دوه لارې

کاشکی مروی چی می هیڅ نه وای لیدلی
دا دسنا په مرګ حساب ژوندون افغانه
"شهید محمد موسی شفیق"

د افغانستان او د افغانانو غم نن دومره ستر شوی دی او ریښی یی دمره ژوری تللی چی سړی هر څومره فکر کوی بیاهم تصور نه شی کولای چی څه به کیږی او دا څکه چی د افغانستان دربړی په اړه تر ډیره حده د افغانانو صلاحیت سلب شوی دی، افغانان یی د بیخودی په اوږده خوب ویده کړی دی او خدای خبر چی کله به راویښیږی دا به نو هله کیږی چی د افغانانو په غوږونو کی د خودی اذان وشي، ځان وپیژنی او دوست او دښمن وپیژنی.

ملګری ملتونه خو یوه اخلاقی اداره ده په دی معنی چی فقط همدومره ویلای شی چی ته هم ښه وایی او هغه هم بد نه وایی نور کوم اجرا ئی صلاحیت نه لري او که کله جرات کوی او چاته نیغ په نیغه ګوته نیسی نو هله چی ترشایی کوم زبرځواك ولاړ وی او هغه یی پرشا وټپوی چی:

پام کړه چی واردي خطا نه شي
د ګلو لښته دی پر سر ولاړه یمه

د افغانستان په مسئله کی خو ملګرو ملتو پرخپله بی وسی اعتراف وکړ او اوسنی نماینده یی فرانیسس وندرل هم چی کله له افغانانو سره ګوری خپله بی وسیورته بیانوي او که کله هم ډیر جرات وکړی نو ووایی چی که

**ووایم**
**که**
**نه وایم**

غواړي د هیواد بحران مو حل شي، نو پلانی ومنئ، خو دانه شي ویلای چی ولی پلانی ومنئ ؟ هغه خبره په زړه کی کوی. څکه چی د نړی لوی خواك پلانی هیواد یی غواړی. دلته بیا د دموکراسی خبره نه وی، د اولس د خوښی خبره نه وي، او هسی له خوږی ګوتی را نیول وي. د اسلامی هیوادو کنفرانس OIC خو تر ملګرو ملتو هم بی وسی دی او هغه د چا خبره چی "ادم نشته بوی یـ شته" ملګری ملتونه خولا ښه دی یوڅه بشری مرستی خو کوي، د اسلامی هیوادو خو دا ضمیر هم مړ دی.

نو اوس خبره ټوله افغانانو ته پاتی کیږی، که چیری زموږ ښکیل لوری پردی قانع شول چی دا هیواد ډیر وران شوی او نور د ورانی پر ځای ودانی ته اړتیا لری، که ښکیل لوری پردی قانع شول چی نور خپله ویده خودی را ویښول پکار دی، او که ښکیل لوری پردی قانع شول چی ډیری وینی توي کړای شوی، نور ددښمنی پرځای یو بل ته د وروری لاسونه ورغځول پکار دی زه فکر کوم چی مسئله ډیر ژر حل کیدای شی.

پاتی ۸مخ

الپتکین

# من از بیگانه گان هــرگز ننالم که با من هر چه کرد آن آشنا کرد

**جفاییکه از ما بر وطن رفت، خشمی را به دنبال کشید: حدود یك ربع قرن است که وطن فرزندانش را در کتله های بزرگــ به بیرون از مرزهایش پرتاب و تبعید می کند. خوان نعماتش را از ما بر گرفته و آسمان بغض گرفته اش در حدی نمی بارد که گلوی سبزهء را تر کند. تا از "تفریق" به "جمع" برنگردیم و "ما" نشویم این خشم فرونخواهد نشست و سال های بسیار دیگری هم خواهد گذشت و ما در همان هویت "مهاجر" ، "تجاوزی" "گریزه" و "کله سیاه" به دور از یار و دیار درمیان اغیار باقی خواهیم ماند..**

با اینکه " آتش نزند هیچ کسی خانه خود را " آتشش زدیم، اگر شهامت اعتراف در ما جوشیده باشد با " توپ قلعه کوب" دیگران به برج و باروی آن کوفتیم و برای پیشی گرفتن و کمایی افتخار از همدیگر در مسابقهء " خانه براندازی" "دارا کولا" شدیم و خون آشامیدیم.

"گلادیاتور" شدیم و شکم دریدیم و تعریف "تراژیدی" را در یونان قدیم مصداق های تازهء پیدا کردیم که آدم های قصه ها بدست نزدیکترین کسانشان کشته می شدند " پرنس و پرنسس ها" "مستر" و "میسیو" ها، "لارد" ها و "کنت" و "دوك" ها در "کازینو" های متعفن سیاست که بوی خون و شراب و تمباکو از آن زا می زند بر سر خوش معاملگی و پیشدستی ما در دریدن همدیگر چه پول های کلانی را که تا و بالا نکردند. باغستان های وطن را به خارستان و تاکستان ها را به خاکستان مبدل کردیم و از آن ماینستان و نیستان ساختیم و برای بود و نبودش در همان " سرشدیار" چانه زدیم نتیجه آن شد که وطن ضرورت "بود" ما را زیر سوال دهد و به پراکند ما از "جابلسا" تا به "جابلقا" برای بدست آوردن لقمه نانی که زنده بمانی، جاروکش و ظرف شوی و سگ شوی و مشاطه گر مرده گان دیگران شوی که ترجیع میدهند پس از مرگ در تابوت های از کاج و عاج و عرعر و شمشاد. ب لباس فاخر، آراسته و شاهانه بخوابند و تونیابی در ته آفتاب سوزان غربت سایه بانی را. هنگام تشنگی آبی را و گاهیکه می پرسند از کجا استی، جوابی را. بازمانده گان آغوش وطن نیز چندان رمقی ندارند، زمین تفتیده است آسمان نمی بارد و آخرین دانه ها را بلا های زاغ و زغن و مورو ملخ ناپخته از سر کشتزار های که بیشتر به سراب می ماند، می ربایند.

وطن ما را دوباره فرا خواهد خواند، آسمانش خواهد بارید و کوه هایش بر فابه و زمینش گندم و باغستان هایش میوه و گل خواهد داد. گاهیکه بپذیریم و اعتراف کنیم که کوتاهی های بسیاری از ما سرزده است. عنوان نمودن "مداخله و مداخلات خارجي ها" همان انداختن برف بام خویش بربام دیگران است و طفره رفتن از حقیقتي که وطن به دستان ما ویرانه شد و قتی بیگانه صدازد که بیگانه، بیگانه است " بـ پر از بام به پایین" ما چرا خود را انداختیم پایین و نیندیشدیم که انداختن این چنانی دست و پاوگردن شکستن دارد.

باید توبه کنیم و بر آییم از حالت "تفریق" و "تقسیم" و بنمایانیم به دنیا که ظرفیت "ما" شدن را داریم. در " ما" شکست وجود ندارد و " ما" نماد خرد جمعی – هویت –همدلی- همسویی و صمیمیت است، سعادت وطن در " ما" نهفته است.

---

# بشـــري حــقــونه

محمد اصف اکرام

د پخوانیو نظریاتو له مخی مدنی او سیاسی حقونه بشری حقونه وو چی پکی د ژوند، ازادی او مصونیت حقونه راځی. د نژاد، رنگ، جنس، ژبی، دین، ټولنیز پوړ او یا د سیاسی نظریاتو پر بنسټ باید په دغو حقونو کی توپیرونه کړل شي. د رایی ورکولو حق، د بیان او خپرونو ازادي، د تیری څخه د کورنی، کور او شخصی ملکیت مصئونیت، د قانون په وړاندی برابری او د جرم تر تثبیت کیدو پوری تورن بیگناه گڼل بشری حقونه دی.

اوس ډیر خلك د بشری حقونو دغه پخوانی نظریه تر پوښتنی لاندی نیسی. ځینی وایی چی د حقونو دا چوکاټ ډیر کوچنی دی او دې ته اړتیاده چی پراخه شي. د بنسټیزو مدنی او سیاسی حقونو سره په کار ده مهم ټولنیز، اقتصادی او کلتوری حقونه ورزیات شي. په دوی کی د یو مناسب ژوند د تیرولو، د ښونی روزنی د حاصلولو، د کار او د برابر کار په وړاندی د برابری مزدوری د ترلاسه کولو، د لږکیوله پاره د خپل کلتور، دین او ژبی په چوکاټ کی د ژوند کولو حقونه دي. ددغی نظری مهمه برخه د (ښځو، ماشومانو او ځايي استوگنو) په گډون د لږکیو او بی برخی کړل شویو ډلو د حقونو ساتنه او ملاتړ دی.

د بشر یو بنسټیز حق د گدايي څخه ازادی ده، بی وزلي د بشری حقونو څخه سرغړونه ده، او د بی وزلی څخه ازادي د انسان یو پوره او نه جلا کیدونکی حق دی.

بی وزلي او په مناسبه کچه ژوند تیرول د بشری حقونو سره تړلی دي. بی وزلي او نا برابري د ټولنیزی گډوډ یو اوزور زیاتی په زیږولو سره د ټولنیزو، اقتصادی او سیاسی بشری حقونو تر پښو لاندی کولو له پاره لاره اواروي.

د ښځو حقونه بشری حقونه دي: په ټولنه کی د ښځو ارزښت او ځای د هغی د ټولنی د اصولو او پالیسیو په چوکاټ کی ټاکل کیږي. د حقوقی قوانینو پراختیا او په کار اچونه د ښځو د حقونو پراختیا ته لاره پرانیځي. څومره چی په یوه ټولنه کی ښځی د بشری حقونو څخه بی برخی وی په همغه کچه ټولنه ورسته پاتی او هلته د ټولو خلکو بشری حقونه تر پښو لاندی وي. په ټولنه کی د خلکو بشری حقونه د هغوی د اقتصادی، ټولنیزو او سیاسی حقونو څخه جلا نه دي. له همدی امله په کارده د خلکو اقتصادی، ټولنیزو او کلتوری حقونو ته درناوی او پاملرنه وشي. او دا هغه وخت کیدي شي چی د ژوند په ټولو چارو کی د بشری حقونو، دموکراسی او د قانون د رول ترمنځ عملی همکاری وي.

د برخی اخیستنی حق: د انسان په بنسټیزو حقونو کی دا هم دی چی د نورو سره کتنی وکړي، غونډي جوړی کړی او ازادی خبری وکړي. دا د ټولو انسانانو حق دی او ددی حق عملی کول د نورو بشری حقونو د لاس ته راوړلو او پر ټولنیزو، اقتصادی، سیاسی او قانونی معیارونو باندی د یوی مدنی ټولنی د جوړولو په لاره کی ژوندی ارزښت لري.

د خوړو، روغتیا، استوگنځي او اقتصادی سلامتیا حق: د پرمختیایی هلو ځلو له لیاری په کار ده دغه بشری حقونه تشویق او ترلاسه شي. ددغو حقونو تضمین د حکومتونو مسولیت دی او دا ټول انسان ته وړتیا او ځواك ورکوي.

د ښونی روزنی حق: په دی کی د رسمی ښوونځی برسیره هغه ټولی زده کړی راځی چی د خلکو ملکی پوهه لوړوي او د نورو بشری حقونو د عملی کیدلو په هکله د خلکو برخه اخیستنه اغیز منه کوي.

د کار حق: دا د پرمختیا د کارونو پر پلان جوړونکو باندی مکلفیت اچوي چی د کار د پیدا کولو ښه شرایط را منځته کړی. داسی پالیسی جوړی کړی چی خلك په شخصی بڼه او هم د عامه پانگوالی په چوکاټ کی کار وکړی شی. د خوانانو له پاره د فنی زده کړو اسانتیاوی برابرې کړی څو هغوی د اقتصادی او تولیدی کارونو د کولو اغیز منه وړتیا ترلاسه کړي.

د کوچنیانو حقونه: کوچنیان د ژوند حق لری د زور زیاتی په وړاندی باید د هغوی ساتنه وشي، ناوړه گټه تری وانه خیستله شي او هم له پامه ونه غورځول شي. کوچنیان د روغتیا او ټولنیز مصئونیت، ښونی روزنی، ساعت تیری او دمی، د کوچنیانو له سوداگری او د شکنجی او غیر انسانی ظالمانه او سپك چلند څخه د ساتنی حق لري.

د کارگرانو حقوق: دوی حق لری د کار د شرایطو، مزدوری، سلامتیا او د بی توپیره او برابر چلند د کارو ځای له پاره ډلی جوړی کړی او چنی ووهي.

د لږکیو او ځایی خلکو حقونه: داسی خلك حق لري خپله ژبه او رواجونه وساتی او د ځانگړو خلکو په بڼه په ځانگړو سیمو کی ژوند وکړي. د خپل واك څښتنان وي او پر خپلو پلرنیو ځمکو باندی خپل کنترول وساتلی شي. دا ټول د ټولنی د جوړښت، کلتور او د ژوند د لارو چارو بنسټ جوړوي.

د ځمکی درلودلو حق: دا په تیره بیا د هغو خلکو د حقونو څخه ساتنه ده چی ژوند یی په ځمکی پوری تړلی وي. دا حقونه د بیلابیلو رواجونو له مخی تثبیت وي او د ساتنی له پاره یی ځانگړی عملیی په کار وي.

د برابری حق: د ځانگړیو امتیازاتو او توپیرونو په وړاندی د ازادی حق چی د ښځو او ځینو ډلو پر ضد په کار اچول کیږي. په دې لاره کې په کار ده د هغو رواجونو او چلندونو مخه ونیوله شي چی د برابری حق د گواښ سره مخامخ کوي.

د چاپیریال د ساتنی حقونه: د خوړو، روغتیا، استوگنځی او ژوند حقونه تر ډیره د چاپیریال ساتنی پوری تړلي دي. د بشری حقونو تشویق او ساتنه د چاپیریال د تشویق او ساتنی سره نیغ په نیغه تړاو لري.

اداری عملیی ته د رسیدو حقونه: دا پرمختیا اداري چار واکو ته د رسیدگی حق دی. خلك حق لري خپلی اړتیاوی او اندیښنی د چارواکو غوږونو ته ورسوي. او په دې توگه د زیانمن شویو خلکو حقونه له نظره و نه غورځول شي.

د قانون درول په وړاندی حق: په دی کی هغه ټول اصول، لاری چاری او د محکمو په گډون ټولی مؤسسی شاملی دي چی خلکو سره د هغوی د ټولو حقونو د ساتنی او پیاوړی کولو په لاره کی مرسته کوي.

بشری حقونه د سولی، سلامتیا، اقتصادی ښیرازی او ټولنیزی برابری په تشویق او بریالیتوب کې نغښتی دي.

(د ملگرو ملتونو د پرمختیایی پروگرام د ۱۹۹۸ د جنوری د پالیسی له سند څخه اخیستل شوی)

# چرا ظاهر شاه سست می جقد؟

عبدالحق واله

در شماره اخیر ماهنامه، کاروان متن مصاحبه، صاحب امتیاز ومدیر مسوول آنرا با یك رادیو خواندم که پروسه، روم (لویه جرکه اضطراری) را یك نوع ساعت تیری خوانده بود. باید گفت که او در انتقاد خود برسستی این پروسه تنها نیست. استاد سید کاظم که از مدتها با این پروسه همراه بود، نیز درین باره یك سلسله انتقاداتی نموده واز عضویت در آن استعفی داده است. او میگوید پروسه مذکور دستخوش جاه طلبی های بعضی اشخاص شده است. مثلاً مصطفی نواسه، پادشاه سابق به اصطلاح از خود می درنگاند واستاد عبد الستار سیرت وزیر عدلیه در کابینه، مرحوم نور احمد اعتمادی برای خود کمپین میکند.

ازینها گذشته در داخل افغانستان هم یکعده رهبران مجاهدین علناً با این پروسه مخالفت می ورزند. مثلاً انجنیر گلبدین حکمتیار که از ابتدا طرفدار انتخابات است وپروسه، قبرس را از طریق داماد خود برای خنثی ساختن لویه جرگه، اضطراری براه انداخته، با شخص ظاهر شاه دشمن آشتی ناپذیر میباشد، زیرا در دوره، پادشاهی او چند روزی به جرم پاشیدن تیزاب بر پاهای زنان در سرك دار الامان وچاقوکشی در دانشگاه کابل زندانی شده بود.

او هنگام قدرت بحیث رئیس حزب اسلامی گفته بود "اگر ظاهر شاه بر میگردد، چشمان خود را سرمه کند".

استاد برهان الدین ربانی واستاد عبد الرب رسول سیاف نیز از پادشاه سابق دل خوش ندارند. تنها حضرت صبغت الله مجددی، پیر سید احمد گیلانی ومولوی محمد نبی محمدی که از اعتدالیون بشمار میرفتند، گاهگاه هنگام مصاحبه های مطبوعاتی از ظاهر شاه به نیکی یاد میکردند اما بمرور زمان ایشان نیز از بطائت یا احتیاط مفرط پادشاه، سابق به ستوه آمدند چنانچه اولی بعضی اوقات واضحاً از او انتقاد میکرد.

دومی که بر عکس اولی بسیار فکر کرده وسر بسته سخن میگوید، درین اواخر بطرفداری او نمی پردازد ومولوی محمد نبی محمدی که از ابتدای نهضت طالبان از آنها پشتی بانی نموده واکنون افواه است که جای مرحوم ملا ربانی را در کابینه، طالبان اخذ خواهد کرد. از ظاهر شاه روی بر تافته است.

یگانه کسی که با بازگشت پادشاه، سابق ظاهراً موافقت کرده، احمد شاه مسعود است.

عامه، مردم نیز از سستی پروسه، روم خسته شده اند وتنها پیر مردانی که دوره، ۴۰ ساله، ظاهر شاه را دوره، امنیت وآرامی می پندارند شب وروز دعا میکنند که اگر خداوند به لطف خاص خود او را باز بهر اسم ورسمی که ممکن شود، رویکار بیاورد تا کشور بلا کشیده، ما را آرام بسازد.

درین ضمن جوانان سر در گم فکر میکنند که سن شاه سابق از ۸۰ متجاوز است وغالباً قدرت کار را نداشته باشد ولذا روی او چندان حساب نمیکنند غافل ازینکه "یك کمان صد تیر را در خاك پنهان میکند".

از کشور های همسایه هم آوازی بطرفداری شاه، سابق بلند نمیشود. ملاهای ایران فکر میکنند که اگر ظاهر شاه باز رویکار بیاید، شاهزاده، سابق ایران نیز چانس بازگشت ونشستن بر اریکه، قدرت را خواهد یافت.

پاکستان قبل از رویکار آمدن طالبان از ظاهر شاه یك اندازه طرفداری میکرد، چنانچه او را دعوت نمود مگر پادشاه، سابق داماد خویش را به عوض خود فرستاد ولی نتیجه، مذاکرات هم معلوم نشد.

تاجکستان طرفدار پر وپا قرص احمد شاه مسعود می باشد. کشور های ازبکستان وقرغزستان درین باره اظهار نظر نکرده اند، در حالیکه ترکمنستان با طالبان روابط دوستانه دارد.

تنها امریکا وروسیه ظاهر شاه را میخواهند زیرا در دوران پادشاهی خود موازنه را با دو ابر قدرت حفظ کرده بود.

چنانچه امریکا برای مصارف پروسه، روم یکصد هزار دالر کمك کرده که ازین مدرك هیات های پادشاه، سابق چندین سفر به کشور های همجوار افغانستان نمودند وروسیه از سبب اینکه طالبان را نمی خواهد در آسیای میانه آتش بنیاد گرائی را روشن کنند به نظر آن یکانه کسی که برین آتش میتوان آب بیفگند، ظاهر شاه است.

اما تا وقتی که پاکستان برسیاست خود در باره، افغانستان تجدید نظر نکند، این کشور از طالبان در داخل و خارج طرفداری میکند چنانچه شمشاد احمد نماینده، دایمی پاکستان در ملل متحد باربار تقاضای عضویت آنها را نموده ودر مجامع بین المللی میگوید طالبان یك حقیقت اند و باید امریکا با آنها به مذاکره بپردازد تا مشکلاتی را که از سبب تسلیم دهی اسامه بن لادن و حقوق بشر با طالبان دارد، از راه، مذکور حل وفصل شود و امریکا گرچه طور غیر رسمی با یکعده از نمایندگان طالبان مخصوصاً در اسلام آباد مذاکره میکند،

بقیه صفحه ۷

# افسانوی پاچا

د هغه شان او شوکت دومره دروند او زیات دی چی افسانوی امپراتوران او پاچاهان یی په گرد پسی نشی رسیدلی، د ژوند مزاج یی دومره ځانگړی دی چی د تاریخ یوه پاچا ته هم ورته نه دی

د امو په تاریخ کی لوستی وو چی فلانی لوی سلطان د غوره او گرندیو اصیل ذاتو اسونو طبیله درلوده، چی هغه به ښکار ته په سپین آس سپریده، جگړی ته په خرمایی او هسي چکر ته په بل رنگ ... خو زموږ د اوسنی پاچا مزاج بیا دادی چی د وخت وروستی ماډل مرسدیز بنز یی په ژوند کی یوازی یو ځل د کیناستلو شرف حاصلوی اوبس.

هغه په یوه داسی محل کی اوسی چی گنبزه یی طلایی ده او د (۱۷۸۸) کوټی لری، د اوسنی وخت د تفریح او ساعت تیری ټول سهولتونه ځانگړی لری، د هر موسم لپاره د لامبو حوضونه د هر ډول لوبو سرلوڅی او سر پټی لوبغاړی... او هر هر څه ...

پاچا د سرو زرو کری لری، د شانداری مانی نه بهر یی په ونو کی ریښتینی جواهر را ځړیدلی دي او پر نورو شیانو برسیره یوازی تر سلو زیاتی شخصی د چکر جټ الوتکی لری، خو پردی ټولو افسانوی امتیازاتو برسیره د هغه رعیت دده د ژوند د دوام او د نیکمرغیو او خوښیو د اوږدیدو لپاره لاس په دعا دی.

د هغه قوم راضی دی . تری خوښ دی.. خکه چی قوم یی هم لږ تر لږه د ژوند ټولی آسانتیاوی لری، له زیږیدو تر مرگه یی د هر یوه ډاکتر او دوا وړیاده، مالیه او باج نه تری اخستل کیږی بلکی سلطان هر وگړی ته د یوه مناسب کور او مناسب کار بندوبست کوی، د هیواد په ساره او اوږدو کی یی د گدا او سوالگر نوم نشته، ټول خوښ او د یوه قانون تر سیوری لاندی ژوند کوی...

هغه افسانوی سلطان دی خو د غه شان یی د رعیت په وینو او غوښو نه دی گټلی هغه پاچـــا دی خو جابر نه او دی ته اړتیا نه لری چی خپل شان او شـــوکت په زور پر رعـــیت ومنی، د جنوب ختیځی آسیا د دغـــه وړوکی هیواد پاچـــا او رعیت ددی سرگردانه او په سل او زر مصـــیبتونو کی را ښکیل انسانی نړی تر ټولو نیکمرغه واکمنی او رعـــیت بلل کیږی.

برونای یا دوم، او سلطان حسن البوکیا چی واقعاً د افسانوی شاهانو نه هم افسانوی ژوند لری.

کیدای شی زموږ مفتیان یی پر اسراف او تبذیر تورن کړی، هغوی به ډیری کمی او گناوی پکی را وباسی او سهی ده چی لری به یی هم، خو په دی نړی کی چی د دین په نامه د دنیا بازار تود دی د جنت پر شعار نړی له دوزخی لمـــبو ډکه شوه... د عمری خلافت په پلمه د خدای جل جلاله پر بندگانو هغه ناکردی کـــیږی چی شیطان تری امان غـــواړی.... د اولسونو په مـــــرگ او ډله ئیز فقر د خیالی شـــاهی او اقـــتدار ستنی دریدلی دی سلطان حسن البوکیا برائت اخلی، بلکی امـــتیاز لری که دی د طـــلا په محل کی اوسی رعیت خو یی لږ تر لـــږه د یوه پاخـــه کور خاوندان دی... دا خو پریږده چی ســـپکیږی نه... انسانی کرامت یی تر پښو لاندی کیږی نه... د هـــــر کس او ناکس په پښو کی لویدلی نه دی....!!!

# اعلامیه فـــدراسیون سازمانهای پنـــاهـــندگان...

محو غاصبانه سیستم تعلیمی و تحصیلی کشور، تاراج و انقراض مواریث فرهنگی، انهدام وحشتناك تندیس های بودا، تفتیش خشن بدن و عقاید، ..... تداوم بخشیدن به جنگ، قحطی و آوارگی، تسلسلی است که به سرعت پیش میتازد.

اخیراً از صندوق جادویی "فرامین" فرمان زردآهنگی بخاطر چپاول، ترساندن و کوچانیدن هندوان صادر گردیده است. این فرمان که در زیر پوشش "دلسوزانه" بیرون آمده، در واقع تحقیر و انتقامجویی دیگریست که در حق این ملت و اقلیتهای دینی آن صورت میگیرد.

آشکار است که سکها و هندوان جزء جدایی ناپذیر ملت ما اند و با این دسایس طالبان و آمرین ... پاکستانی شان نمیتوانند هویت ملی و افغانی اقلیت ها را محو نمایند.

هموطنان دردمند و آواره!

دامنه نقض صریح حقوق بشر در کشور ما هر لحظه رنگ رسوا تر کسب میکند. فدراسیون سازمانهای پناهندگان افغان FAROE وجیبه خود میداند که در برابر هر مورد نقض خشن حقوق بشر در کشور موضع اعتراضی خویش را بیدریغ و با صراحت لهجه به جهانیان اعلام بدارد. اینك به ادامه اعلامیه های قبلی فرمان تبعیضگرانه و تحقیر آمیز طالبان در مورد حمل "علامه ممیزه زرد رنگ" توسط افغانهای هندو مذهب را بشدت محکوم نموده، ضمن ارسال نامه های جداگانه از کمسیون حقوق بشر خواسته شده است تا صدای اعتراض و انزجار مردم بیدفاع افغانستان از وضع موجود را هر چه رساتر به گوش جهانیان برسانند.

هیئت اجراییه فدراسیون انجمنهای پناهندگان افغان در اوربا



# د شعر او ادب ګل پاڼې

## له کابله راځی

سید عبدالله "سعیدی"

چی د مطلب خبره نه وي پردی کله راځی
په یاری تینګ د یار جونګړی ته په خپله راځی
ستا خوږه مینه ګران وطنه هیرولی نه شم
د مینی غږ دی همیشه زما له ګوګله راځی
چی فرعونان می ژبه او لاسونه تړی
زما ګیله له خپل قسمت اوله ازله راځی
چا ته به څه ورکړم چی ژوند کی می څه نشته اشنا
د هری خوا نه ددی خلکو ګیله څله راځی
سپرلی نوروته ګلونه موږ ته جنګ راوړی
د کډو لوی بهیر روان دی له کابله راځی
شی چی خپل ورور راته دښمن په دروازه کی ولاړ
غلیمه ستا نه ګیله نه کرم نه د بله راځی
له یزیدانو "سعیدی" دا تمنا مه لره
په حسینسانو کربلا کی رحم کله راځی

## ننګیالی د زمانی خوشحال ختك

د میا آروال لیکنه

د افغان په ننګ می وتړله توره
رښتیا هم په افغانی نړۍ کی داسی اتلان زیږیدلی چی نوmونه یی ژوندی او کارنامی یی د تلپاتو روښانه ډیوو په څیر لاتر ډیرو او لاتر اوسه بلی شغلی کا. رڼا خپروی. لاری ښائی، او راتلونکو کولونو ته د پند، عبرت او پوهی سبقونه ورکوی.
د لته د پښتو د ادب پلار یادوم. نه یواځی د ادب بلکه د توری، همت او ناریښتوب میړنی، هغه ننګیالی چی د زمانی دښمن مغل یی په ټول زور او طاقت سریداله کړی او لالهانده کړی و . دا د زمانی ، ملی اتل خان خوشحال ختك د خان شهبز خان خوی او دلوی ملك اکوړی ختك لمسی دی چی ۴۰۰ کاله پخوا د اکوړی ختك د "سیوری" په کلی کی زیږیدلی، لوی شوی او د خانی ریښتونی مقام ته رسیدلی دی.
دخانی مقام ځکه یادوم چی "خان" د پښتنو هغه مشر وی او دی چی په هغه کی د میړانی، ناریښتوب، درنښت، امن او عزت ټول صفات راټول شوی او هغه د خپل قوم او قبیلی مشر بللی شی. د "خان" کلمه له بده مرغه په افغانستان کی د کمونیستانو له خوا د فیوډال، ظالم، جابر او وینی څښونکی په نوم تعبیریدله او تردی بده لا دا چی "خان" د پیښور په روان ادب په تیره بیا د رادیو او تلویزیون په خپرونو کی د ډاکو، غل، قاچاق وړونکی، عذار او د بدو افعلو په لرونکی باندی تعبیریږی. دا کار ددوی سهوه او غلطی ده په دی ډول دوی په ناپوهی سره د پښتنو د سترو مشرانو خدای مکړه سپکاوی کوی او هغه چی بیا د مشر صفات ونلری هغه ته دی "خان" نه ویل کیږی هغه په رښتیا هم یوبی لاری سړی وی. خو "خان" همداسی وی لکه خوشحال خان ختك چی هغه یواځی د پښتون په نوم مبارزه نه کوی هغه د پردیو له یرغل نه د ژغورنی په مفهوم " د افغان په ننګ" توره را اوچته وی او دښمن ته په ډاګوی چی : لاتر اوسه یی مغزه په کرار نه دی او هغه هم ځکه چی دده له قوم او مبارز ینو سره یی ډغره وهلی او دښمن ته دا درکه هم کوي چی دده د توری شرنګ پری داسی ګوزار دی چی له کټه به سر بداله پریوځی.
نور دداسی مشر او داسی خان یادونه ضرور او حتمی خبره ده، له بده مرغه دا مشر او خان په داسی یو قوم کی پیدا شوی چی په قدر یی نه پوهیږی ده پخپل قبر د مغلی تیری کوونکو د اسونو د پښو ګرد هم نه شو زغملی دا یو دروند سبق و خو اوسنی نسل ترینه بی خبره دی. که یی قبر ته ورشی هلته به ولیدل شی چی دا پښتانه یی څومره په قدر پوهیږی. که همدا خوشحال ختك په بل قوم کی پیدا شوی وای له شك پرته به یی اوس قبر او زیارت د خصو او عامو زیارتګاه وه هره خبره او لارښوونه به یی د انسانو له پاره د کانی کرښه وای، هر خارجی او بهرنی میلمه به د ګلو ګیډی ایښودلو ته ورتلو. په راډیو، تلویزیون کی به یی په درنښت مقولی خپریدی خو افسوس او بیا هم ډیر......
موږ د خوشحال خان ختك د څلورسومی کالیزی لمانځونکو ته په درناوی سره کوروداني وایو او ټولو پښتو ادب پوهانو او خوشحال پیژندونکو ته مبارکی ورکوو چی له دغه امله یی کتابونه لیکلی، څیړنی یی کړی او چاپ کړی یی دی.

---

خارنوال ابرار مهر گن

# برادران محترم به خود بیندیشند

از دیری است که دانشمندان، سیاستمداران، اشخاص خبیر و ذیعلاقه در رابطه با قضایا افغانستان کشور های خارجی را دخیل می دانند وبار ملامتی عدم وجود امنیت و تامین صلح را نیز به دوش انان می گذارند راستی هم اگر رشته اصلی این همه بدبختی ها کنونی دریافت شود فکت اساسی آن عامل بیرونی و مداخله اجانب است. قسمیکه همین اکنون جهانیان اطلاع دارند اطلاع چه اگر یکبار به افغانستان تشریف بیاورند به چشم سر ملاحظه خواهند کرد که در افغانستان هیچ چیز وجود ندارد. به هیچ نوع نهاد چه سیاسی چه اجتماعی و چه اقتصادی بر نخواهند خورد نهاد سیاسی ما در اثر رقابت های ناسلام و ناعاقبت اندیشی گروه های متخاصم ازبین رفته. نهاد اجتماعی قصداً از بین برده شده انهم به زور سرنیزه توپ و تفنگ. جامعه ما از هویت اصلی اش کشیده شده و به بیگانه پرستی سوق داده شده همین اکنون جامعه افغانی را نمیتوان به یك جامعه که در ان چه نوع سنن، عنعنه کلتور رسم ورواج مورد قبول مردم باشد رایج است وجود ندارد اگر رایج هم است رایج گردانیده شده و مردم از طی دل به آن وقع نمی گذارند مسئله مسئله اجبار است و بس.
